# په عمومي ډول اخيستل کېدونکي لګښتونه

که تاسو د BJC Health د مالي مرستې د پالیسی (Financial Assistance Policy, FAP) له مخې مرسته ترلاسه کوئ، نو روغتون به له تاسو څخه د هغو خدمتونو لپاره چې بيمه لرونکي کسان يې ترلاسه کوي، له عمومي اخيستل کېدونکو لګښتونو (Amounts Generally Billed, AGB) څخه زيات فيس وانخلي. هغه ناروغ چې د مالي مرستې لپاره په شرايطو برابر وي يوازې د هماغې اندازې لپاره "محاسبه شوی" ګڼل کېږي چې په شخصي ډول يې د تادیې مسؤلیت لري، وروسته له دې چې ټول تخفیفونه (په شمول د هغو تخفیفونو چې د FAP له مخې ورکول کېږي) او د بيمې تاديات پلي شي.

BJC د AGB اندازه د دې له لارې ټاکي چې د روغتون ټول ناخالص لګښتونه د يادو خدمتونو لپاره له يو يا څو سلنې سره ضربوي، چې ورته د "AGB سلنه يا فيصدي" ويل کېږي. د AGB سلنه په کلنۍ توګه داسې محاسبه کېږي چې د روغتون د ټولو درخواستونو اندازه چې د 12 مياشتو په جريان کې د روغتيايي بيمو له لوري ورته اجازه ورکړل شوې وي، د دغو درخواستونو لپاره د ناخالصو اړوندو لګښتونو پر مبلغ وېشل کېږي. د دې موخو لپاره، هغه بشپړ مبلغ چې د روغتيايي بيمه کوونکي له خوا منل شوی وي،

په کې هم د بيمه کوونکي له خوا د بېرته ورکولو اندازه شامله ده او هم هغه اندازه (که موجوده وي) چې شخص يې په شخصي ډول د ګډ تادیاتو (co-payments)، ګډې بيمې (co-insurance)، يا کسر وړ اندازې (deductibles) په بڼه ورکوي. د AGB محاسبه هر کال د هر روغتون لپاره په جلا توګه ترسره کېږي.

کله چې د مالي مرستې لپاره ستاسو وړتيا تصويب شي، روغتون به د مالي مرستې هغه اړوند تخفيف پلي کړي چې د مالي مرستې د عايد او تخفيف په جدول کې تشريح شوی دی. هر هغه مبلغ چې پر تاسو پاتې وي، پر هغه به بيا کتنه وشي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې دا د AGB له سلنې څخه کمه دی. که چېرې پاتې بيلانس د AGB د منل شوې اندازې څخه زيات وي، نو پر همدغه بيلانس به اضافي تخفيف ولګول شي تر څو دا د AGB تر سلنې پورې راکم شي.

لاندې د BJC د هر روغتون لپاره د AGB فيصدي (سلنه) ده. که چېرته تاسو د AGB د محاسبې په اړه کومه پوښتنه لرئ، په مهربانۍ سره 314-362-8400 يا 855-362-8400 يا Saint Luke's په 816-932-5678 يا 888-581-9401 ته زنګ ووهئ.

| د روغتون نوم | د عمومي اخيستل کېدونکو لګښتونو سلنه يا فيصدي (AGB) |
| --- | --- |
| Alton Memorial Hospital | 20.6% |
| Barnes-Jewish Hospital | 28.5% |
| Barnes-Jewish St. Peters Hospital | 24.0% |
| Barnes-Jewish West County Hospital | 24.8% |
| Christian Hospital | 21.4% |
| Memorial Hospital | 18.9% |
| Missouri Baptist Medical Center | 26.6% |
| Missouri Baptist Sullivan Hospital | 26.7% |
| Parkland Health Center–Bonne Terre | 24.4% |
| Parkland Health Center–Farmington | 24.4% |
| Progress West Hospital | 26.2% |
| St. Louis Children's Hospital | 43.4% |

BJC Health™

3259250-1-26-2025

| Saint Luke’s Hospitals | د عمومي اخيستل كېدونكو لګښتونو سلنه يا فيصدي (AGB) |
|---|---|
| Allen County Regional Hospital | 44.85% |
| Anderson County Hospital | 56.14% |
| Hedrick Medical Center | 45.96% |
| Saint Luke’s East Hospital | 16.0% |
| Saint Luke’s Hospital of Kansas City | 22.1% |
| Saint Luke’s North Hospital | 18.4% |
| Saint Luke’s South Hospital | 17.6% |
| Wright Memorial Hospital | 49.58% |

د مارچ 1, 2026 څخه نافذ دی.

BJC Health™